# الفِطْرَةُ خمسٌ: الخِتَانُ والاستحدادُ وقصُّ الشَّارِبِ وتقليمُ الأظفارِ وَنَتْفُ الآبَاطِ». «فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو وېستل

له ابوهريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «الفِطْرَةُ خمسٌ: الخِتَانُ والاستحدادُ وقصُّ الشَّارِبِ وتقليمُ الأظفارِ وَنَتْفُ الآبَاطِ». «فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو وېستل».
[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام د مبارک دين پنځه ځانګړنې او د پيغمبرانو سنتونه (طريقې) بيان کړي دي: د نر د تناسلي آلې د پاسه د اضافي پوستکي پرې کول، او د ښځينه و لپاره د شرمګاه د پوستکي د سر پرې کول چې د دخول د ځای د پاسه دی. او دويم يې: د نوم د لاندې برخې د وېښتانو لرې کول دي، کوم چې د مخکن شرمګاه شاوخواشاته دي. او دريم يې : د برېتونو لنډول دي، چې نارينه د پاسن شونډې د پاسه د وېښتانو له لرې کولو څخه عبارت دی، تر څو شونډه ښکاره شي. څلورم يې د نوکانو لنډول دي. او پنځم يې: د تخرګ د وېښتانو وېستل دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3144

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee